شتمنۍ
SHTAMANAI
اوونیزه

**گرانو هیواد والو !**

**مالیات لګښتونه نه دي، بلکې ستاسي د بیت‌المال او د دولتي نظام د بودیجې له پیاوړتیا سره مرسته او د هیواد د روښانه راتلونکي تضمینوونکي دي.**



## سرمقاله

## نقش معادن زغال سنگ در ثبات اقتصادی کشور

این مادهٔ پر انرژی از سالیان دراز غرض گرم کردن خانه‌ها در زمستان و آهنگران بکار گرفته شده و پس از چوب و زغال، سومین مادهٔ مصرفی مردم افغانستان برای گرم کردن مورد استفاده قرار می‌گیرد. معادن زغال سنگ در افغانستان به شکل کمربند با طبقات مختلف در زیر تپه‌های خاکی رشته کوه‌های هندوکش قرار داشته که از ولایت بدخشان آغاز تا تخار، بغلان، سمنگان، بامیان، سرپل امتداد یافته و به معدن سبزک ولایت هرات منتهی می‌شود ذخایر اثبات شده آن حدود ۱۰۰ تا ۴۰۰ میلیون تن پیش‌بینی شده‌است. زغال سنگ یکی از منابع مهم انرژی و اولین سوخت فسیلی است که توسط بشر به عنوان منبع اصلی انرژی مورد استفاده قرار گرفته است. امروزه زغال سنگ را می توان در صنایع مختلف از جمله تولید بخار در نیروگاه های برق، صنایع فولاد سازی، مواد کیمیاوی و تهیه کودهای کیمیاوی مورد استفاده قرارداد. افغانستان یکی از کشور های صادر کننده زغال سنگ می باشد. با روی کار آمدن امارت اسلامی این صادارت افزایش یافته که باعث بلند بردن عواید گمرک گردید. در این راستا ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه گفته است که در سال مالی ۱۴۰۱عواید گمرکی از بخش زغال سنگ افزایش قابل ملاحظه داشته که وزارت مالیه در این راستا تسهیلات لازم را برای این بخش ایجاد نموده تا روند صادرات بخوبی به پیش برده شود. وزارت مالیه به منظور ایجاد تسهیلات برای تجار، اجازه صادرات زغال سنگ در گمرک سرحدی تورخم را اتخاذ نمود که قبلاً صادرات زغال سنگ از این طریق ممنوع شده بود، علاوه بر این فعالیت های گمرکی را در گمرک مذکور بطور ۲۴ ساعته فعال ساخته که در نتیجه این روند بر افزایش صادرات زغال سنگ تأثیر مثبت نموده . در ۱۰ ماه نخست سال ۱۴۰۰ حدود ۹۴۸ هزار تن زغال سنگ از کشور صادر شده که از درک آن ۱ میلیارد و ۸۹۳ میلیون افغانی محصول گمرکی به دست آمده است، اما در ۱۰ ماه نخست سال جاری ۱۴۰۱ حدود ۲.۷ میلیون تن زغال سنگ از گمرکات کشور صادر گردیده که از درک آن ۱۲ میلیارد و ۱۴۳ میلیون افغانی محصول گمرکی اخذ شده است. این ارقام نسبت به سال گذشته ۱۰ میلیارد و ۲۵۰ میلیون افغانی افزایش را نشان می دهد. با این حال زغال سنگ جایگای خود را در جهان با کم شدن ذخایر نفت و گاز طبیعی در آینده ای نه چندان دور مجدداً اهمیت اولیه خود را کسب کرده و در تامین انرژی مصرفی جوامع بیشترین نقش را خواهد داشت. بعلاوه با اختراع پدیده تکنالوژی معکوس، زغال سنگ نه تنها مواد سوخت، بلکه یک منبع ارزشمند جهت تولید مواد خام برای تولید سوخت تمیز و انواع مواد کیمیاوی خواهد شد.

**درنښت**
**اداره**

# د هیواد ګمرکونو د مالي کال تر پای ته رسېدو مخکي خپل عوایدي هدف بشپړ کړ




د مالیې وزارت له لوري د هیواد په ټولو ګمرکونو کې د رامنځته سویو اسانتیاوو، پرمختیاوو، رڼو عوایدو راټولولو، تخصصي کاري ټیم او دندي ته د ژمنتیا په پایله کې د ګمرکونو عواید د مالي کال تر پای ته رسېدو مخکې خپل عوایدي هدف بشپړ کړ. د مالیې وزارت له لوري د ګمرکونو لوی ریاست ته د (۱۴۰۱) مالي کال لپاره د (۱۰۵) میلیارده افغانۍ عوایدو کلنۍ هدف ټاکل سوی و، چې د ګمرکونو لوی ریاست وکولای سول یاد هدف د روان مالي کال د کب د میاشتي په (۱۴) مه نېټه بشپړ کړي او تر (۱۰۵) میلیارده افغانیو لوړ ګمرکي عواید ترلاسه کړي. په داسي حال کې، چې په (۱۴۰۰) مالي کال کې ترلاسه سوي ګمرکي عواید (٦۴) میلیارده افغانۍ او په (۱۳۹۹) مالي کال کې له ګمرکونو څخه (۷۲) میلیارده افغانۍ عواید ترلاسه سوي وه. د اسلامي امارت له بیا حاکمیت څخه وروسته دا لومړی ځل دئ، چې د هیواد له ګمرکونو څخه په لوړه کچه عواید را ټولېږي او آن دا چې تر خپل ټاکل سوي هدف لوړېږي. د یادوني وړ ده، چې د روان (۱۴۰۱) مالي کال د وروستۍ میاشتي (۱۵) ورځي پاته دي او د روان مالي کال ترپایه به ګمرکي عواید له (۱۱۰) میلیارده افغانیو څخه لوړ سي.

# د مالیې وزارت د مستوفیتونو عواید د پام وړ زیات سوي





د مالیې وزارت مشرتابه د غوره مدیریت، فساد پر وړاندي ریښتیني مبارزې، په کاري ساحو کې د ژمنو او مسلکي کسانو ګمارلو، سوداګرو، صنعت کارانو او اصنافو ته د مالیاتي جرایمو د معافولو، په اصنافو (دوکاندارانو) له ۱.۵ ٪ سلني څخه ۰.۵ ٪ سلني ته د مالیاتي نورم را کښته کېدلو او په مستوفیتونو کې قدرمنو مالیه ورکوونکو ته د اړینو اسانتیاوو برابرولو په پایله کې د روان مالي کال په لومړنیو (۱۱) میاشتو کې له مستوفیتونو څخه (۱۱) میلیارده او (۳۳٦) میلیونه افغانۍ عواید راټول سوي دي، چې د تېرو کلونو په پرتله (۲) ملیارده او (۱۰۰) میلیونه افغانۍ زیاتوالی ښیي.

## مسئولین گمرک پکتیا از قاچاق تجهیزات نظامی جلوگیری نمودند




مسئولین بخش تشریح گمرک پکتیا در نتیجه بازرسی از یک محموله وارداتی، تعدادی از تجهیزات نظامی را که به شکل ماهرانه جاسازی شده بود، کشف و ضبط کردند. این تجهیزات نظامی شامل سه کارتن قنداغ و قبضه اسلحه کلاشینکوف، ۳۳ نوع مختلف دوربین های نظامی، ۸۰ عدد پرتله، تعدادی پایه ها و جري اسلحه M٤، برچه های نظامی و دیگر تجهیزات می باشد. در رابطه به این قضیه سه نفر به شمول راننده موتر دستگیر گردیده و برای تحقیقات بیشتر به ارگان های امنیتی سپرده شده است.




**د اقتصادي سکټورونو وده (Real GDP Growth)**

م ۲




**تفاهمنامه همکاری میان وزارت مالیه و مؤسسه تحصیلات عالی افغان به امضاء رسید**

م ۲



**د اسلام قلعه سرحدي ګمرک و کارکوونکو ته د ګمرکي مسایلو په اړه روزنیز ورکشاپ پیل سو**

م ۲




**د دولتي شرکتونو عمومي ریاست د اسلامي امارت په بیا راتګ سره په زرګونو جریبه غصب سوې ځمکه را ګرځولې**

م ٤



**د کوچنیو مالیه ورکوونکو د تثبیت او مالیه ټاکني لارښود**

م ۲



**د کندهار په محصولي ګمرک کي د وارداتي او صادراتي توکو لپاره انالوګ تله فعاله سوه**

م ۳

SHTAMANAI
اوونیزه



## تفاهمنامه همکاری میان وزارت مالیه و مؤسسه تحصیلات عالی افغان به امضاء رسید




تفاهمنامه همکاری میان وزارت مالیه و مؤسسه تحصیلات عالی افغان به منظور همکاری در بخش های علمی و تحقیقاتی و ایجاد روحیه هماهنگی میان ادارات متذکره به امضاء رسید.
این تفاهمنامه که طی مراسمی در خیرهال وزارت مالیه به امضاء رسید، مولوی احمد شاه شاکر، رییس منابع بشری وزارت مالیه، خالد بریالی، رییس مؤسسه تحصیلات عالی افغان و شماری از کارمندان این وزارت اشتراك داشتند.
مولوی احمد شاه شاکر، رییس منابع بشری ضمن قدردانی از حسن ظن، تعهد و اخلاص مؤسسه تحصیلات عالی افغان بخاطر ترقی و پیشرفت علمی مردم این کشور گفت، این تفاهمنامه همکاری بخاطر ارتقای ظرفیت کارمندان وزارت مالیه بوده تا در راستای بهبود فعالیت های کاری منابع انسانی گام های مؤثر برداشته شود.
خالد بریالی، در مورد مؤسسه تحصیلات عالی افغان معلومات داده افزود، که این مؤسسه تحصیلی ۴ پوهنځی (شرعیات، حقوم و علوم سیاسی، اقتصاد و انجنیری) فعال داشته و کارمندان وزارت مالیه با استفاده از تخفیف در نظر گرفته شده در پوهنځی های متذکره می توانند ظرفیت های اکادمیک خود را بالا برده و مصدر خدمت به وطن شوند. علاوه بر آن زمینه برای محصلین این موسسه نیز فراهم گردیده و می توانند در سیمینار های وزارت مالیه اشتراک نموده و کار های علمی و تحقیقی خود را کامل نمایند.


### د ګمرکونو لوی رئیس کندز ولایت ته رسمي سفر وکړ

د ګمرکونو لوی رئیس ښاغلي مفتي عبدالمتین سعید چې په رسمي سفر کندز ولایت ته تللی، د یاد ولایت له والي ښاغلي ملا نثاراحمد نصرت سره وکتل.
په دې لیدنه کې چې د کندز ګمرک رئیس هم شتون درلود، دواړو لوریو د کندز په ګمرک کې سوداګرو ته د لا اسانتیا په رامنځته کولو، د دوی ستونزو ته د رسیدنې او د یاد ګمرک د عوایدو د زیاتوالي په څرنګوالي بحث او د نظرونو تبادله وکړه.
د ګمرکونو لوی رئیس په دې سفر کې په جلا لیدنه کې د کندز ولایت له یو شمېر سوداګرو سره د یاد ولایت د سوداګرۍ او پانګونې په موخه کې هم وکتل. د کندز ولایت سوداګرو خپلې ستونزې د ګمرکونو له لوی رئیس سره شریکې کړې او د حل غوښتونکي شول.
د ګمرکونو لوی رئیس د دوی زیاتې شته ستونزې حل کړې او په اړه یې د کندز ګمرک مسؤلینو ته لازمې سپارښتنې هم وکړې. نوموړي د کندز ولایت سوداګرو ته ډاډ ورکړ چې پاتې ستونزو ته به یې هم د اصولو په رڼا کې ژر رسیدنه وشي.
همداشان ښاغلي سعید د کندز ګمرک د چارو ارزونه وکړه او د دې ګمرک له مسؤلینو او کارکونکو سره یې ولیدل او دوی یې سوداګرو ته د نورو اسانتیا رامنځته کولو تر څنګ په ګمرکي چارو کې لا خدمت کولو ته وهڅول.

## د اقتصادي سکټورونو وده (Real GDP Growth)

د مالیې وزارت د مالي پالیسۍ او لوی اقتصاد عمومي ریاست د مالیې وزارت په اډانه کې د ټول هیواد د مالي سرچینو، اقتصادي او مالي پلانونو او پالیسیو او دغو سکټورونو د پراختیا، ارزونې او تحلیل په برخه کې ربعوار راپور په کره او هر اړخیزه بڼه وړاندې کوي. همدا شان دا ریاست د اقتصادي او مالي سیاست کاروني، د پالیسیو ترتیب او د عامه مالي چارو په مدیریت کې د اصلاحاتو د پلي کولو مسولیت پر غاړه لري. په دې (د ۱۴۰۱ کال د دوهمي ربعي راپور) کې د هیواد کې د حقیقي ناخالص کورني تولید پر اړخونو، پرمختګونو، خنډونو او راتلونکو پلانونو باندي بحث سوی.

حقیقي ناخالص کورنی تولید د مالي کال په اوږدو کې په هیواد کې د تولید سوو ټولو وروستیو توکو او خدماتو پولي ارزښت په ثابت قیمت سره اندازه کوي، چې په (۱۴۰۰) کال کې تر (۱۰۲۱.۵) میلیارډه افغانیو زیات و او د حقیقي ناخالص تولید وده شاوخوا منفي (۲۰.۷) سلنه وه. د ناخالص کورني تولید په واقعي وده کې د پام وړ کمښت اصلي لامل هغه پرمختګونه او بدلونونه دي چې په هیواد کې رامنځ ته سوي، چې د دولت ټولي سوداګریزي او عایداتي چاري ئې اغېزمني او په پایله کې ئې د هیواد اقتصاد ته لوی زیان رسولی دئ. په (۱۴۰۰) کال کې د کرني اضافه ارزښت تر (۴۱۲.۸) میلیارډه افغانیو ته رسیدلی، په ناخالص کورني تولید کې د دې سکټور ونډه (۳۳.۴) سلنه وه او وده ئې منفي (۲.۸) سلني ته رسېدلې ده. په (۱۴۰۰) کال کې د صنعت سکټور اضافه ارزښت (۱۹۲.۱) میلیارډه افغانیو ته رسېدلی او په ناخالص تولید کې ئې ونډه (۱۵.۵) سلنه وه او د دغه سکټور وده منفي (۱۴.۱) سلنه کېده. د خدماتو د سکټور اضافه ارزښت (۵۷۳.۳) میلیارډه افغانی کېده، چې د (۱۳۹۹) کال په پرتله د دغه سکټور وده منفي (۳۲.۷) سلنه او په ناخالص کورني تولید کې ئې ونډه په (۱۴۰۰) کال کې (۴٦.۵) سلني ته رسېدلې ده. د دولت وروستیو بدلونو او د هیواد اقتصادي وضعیت ته په کتو سره، د (۱۴۰۱) کال لپاره او روان کال تر پایه پوري د ناخالص کورني تولید دقیق اټکل نسي کېدای. د مالي پالیسي او لوی اقتصاد عمومي ریاست د شنني او وړاندویني له مخي، د هیواد ناخالص کورني تولید د حکومت مالي کړني په ځانګړې توګه د روان کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د کورنیو عوایدو په راټولولو کې، د مالي کال تر پایه د منفي (۷.۳) سلني د ودي امکان شته، خو یاده سوې سلنه د حکومت د کړنو او د هیواد په سیاسي او اقتصادي چارو کې د ښه والي په پام کې نیولو د بدلېدو وړ ده.
یادونه: د د مالیې وزارت د مالي پالیسۍ او لوی اقتصاد عمومي ریاست ربعه واره راپورونه د PDF په بڼه د مالیې وزارت له سایټ (https://mof.gov.af/) څخه هم ترلاسه کولای سئ.




منبع: د مالي پالیسۍ او لوی اقتصاد لوی ریاست MFM ماډل ۱۴۰۱ کال

## د کوچنیو مالیه ورکوونکو د تثبیت او مالیه ټاکني لارښود

د کوچنیو مالیه ورکوونکو د تثبیت او مالیه ټاکني لارښود
۱- د اصنافو(دوکاندارانو) په خرڅلاو باندي د مالیه ټاکنه:
د اصنافو (دوکاندارانو) څخه ثابته مالیه اخیستل کېږي؛ په هغه صورت کي چي د اصنافو کلنی خرڅلاو د (۱۵۰۰۰۰) افغانیو څخه لوړ وي د ثابتي مالیې تابع ګرځي، چي په لاندي فورمول محاسبه کېږي. ورځنی خرڅلاو ضرب ۳۰۰ ورځي؛ ضرب ۰,۵ تقسیم پر سل باندي.
• که چېرې د یوه دوکان کلنی خرڅلاو تر (۱۵۰۰۰۰) افغانیو پوري وي له مالیې څخه معاف دئ.
او
• که چېرې د یوه دوکان کلنی خرڅلاو له (۱۵۰۰۰۰) افغانیو څخه لوړ سي؛ نو (کلنی خرڅلاو ضرب ۰,۵ تقسیم پر ۱۰۰ مساوي له کلنۍ مالیې سره) کېږي.
۲- د کرایې پر ونډې د مالیې ټاکنه:
د کرایې ونډه پر عایداتو د مالیاتو یو برخه دچي یو شخص د خپل ملکیت له کرایې څخه عاید تر لاسه کوي؛ نو په دې صورت کې یاد شخص مکلف دی چي مالیه ورکړي. که چېري کلنی عاید یې د ٦۰۰۰۰ افغانیو څخه کم وئ؛ نو د مالیې څخه معاف دی او که چېرې کلنی عاید ئې له (٦۰۰۰۰)څخه تر (۱۵۰۰۰۰) افغانۍ وي د ۲٪ سلني مالیې تابع دی او که له ۱۵۰۰۰۱ افغانیو څخه تر (۱۰۵۰۰۰۰) پوري وي د ۱۰٪ سلني مالیې تابع دئ او که له دې څخه ئې د کرایې د ونډې عواید ډېر وي نو د (٪۲۰) سلنه مالیې تابع ګرځي.
۳- د ملکیتونو پر لېږد د مالیې ټاکنه:
د ملکیتونو پر لېږد مالیه چي پر عایداتو د مالیې قانون د (۲۳) مې او (۳۰) مې مادې پر بنسټ د ټولیز قیمت د (٪۱) سلنه مالیې تابع ګرځي.
٤- پر رستورانټونو باندي د مالیې ټاکنه:
که چېرې د رستورانټونو ربعوار عاید تر(۷۵۰۰۰۰) افغانۍ وي د (٪۲)سلنه انتفاعي مالیې تابع کېږي او که چیري یئ ربعوار خرڅلاو له(۷۵۰۰۰۰) افغانیو څخه لوړ سي نو د (٪۵) سلنه انتفاعي مالیې تابع ګرځي.
٥- د ډاکټرانو پر فیس د مالیې ټاکنه:
که چیري د ډاکټرانو کلنی عاید له(٦۰۰۰۰) څخه تر ۱۵۰۰۰۰ افغانیو وي نو د (٪۲) سلني مالیې تابع دي او که چیري یې کلنی عاید له(۱۵۰۰۰۱) افغانیو څخه تر (۱۰۵۰۰۰۰) افغانیو پوري وي نو د (٪۱۰) سلنه مالیې تابع کیږي او که چیري یې کلنی عاید د (۱۰۵۰۰۰۰) څخه زیات وي نو د (٪۲۰) سلني مالیې تابع ګرځي.
٦- د معاملاتو لارښوني (راهنمای معاملات) دفترونو باندي د مالیې ټاکنه:
که چېرې د معاملاتو لارښوني د دفتر کلنی عاید له(٦۰۰۰۰) څخه تر(۱۵۰۰۰۰) افغانیو پوري وي نو د (٪۲) سلني مالیې تابع دي او که چیري یې کلنی عاید له(۱۵۰۰۰۱) افغانیو څخه تر (۱۰۵۰۰۰۰) افغانیو پوري وي نو د (۱۰) سلنه مالیې



تابع کیږي او یا هم که چیري یې کلنی عاید (۱۰۵۰۰۰۰) افغانیو څخه زیات وي نو د (٪۲۰) سلني مالیې تابع ګرځي.
قدرمنو مالیه ورکوونکو ستاسي مالیه د هیواد په ښېرازۍ، خدمتونو، او دفاعي سکټور مصرفېږي او د افغانستان اسلامي امارت ستاسي د یوې یوې افغانۍ مالیې حساب ورکوونکی دئ.
**زموږ مالیه، زموږ هېواد، زموږ راتلونکی**

## د اسلام قلعه سرحدي ګمرک کارکوونکو ته د ګمرکي مسایلو په اړه روزنیز ورکشاپ پیل سو



داسلام قلعه سرحدي ګمرك کارکوونکو ته د ګمرکي مسایلو په اړه د ظرفیت لوړوني ورکشاپ پیل سو. د ګمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ د تدریسي پلان له مخي د اسلام قلعه سرحدي ګمرك یو شمېر نویو په دنده ګمارل سویو کارکوونکو ته ۱۵ورځنی د ظرفیت لوړوني ورکشاپ په یاد ګمرك کي پیل سو. په دې روزنیز ورکشاپ کي به یادو کارکوونکو ته د ګمرکونو قانون په عمومي احکامو، تعرفې، قیمت ګذارۍ، ترانزیټ، ګمرکي ارزښت ټاکني، ګمرکي سرغړونو، د تلاښۍ او پلټني مهارتونو په اړه عملي او نظري روزنه ورکړل سي.د یادوني وړ ده چي د ګمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ ښوونکي به په نورو ګمرکونو کي هم د کارکونکو د وړتیا لوړولو په موخه ورته ورکشاپونه جوړ کړي.

## د ګمرکونو لوی رئیس د بلخ ولایت له یو شمېر سوداګرو سره وکتل



د ګمرکونو لوی رئیس ښاغلي مفتي عبدالمتین سعید چي په رسمي سفر بلخ ولایت ته تللی، نن یې د یاد ولایت د سوداګرۍ او پانګوني په خونه کي له یو شمېر سوداګرو سره وکتل.
په دې لیدنه کي چي د بلخ او اقینې ګمرك مسؤلینو هم ګډون درلود، په پیل کي د بلخ ولایت سوداګرو په خپل وار سره په یادو ګمرکونو کي د شته ستونزو یادونه وکړه او د ګمرکونو له لوی رئیس څخه یې غوښتنه وکړه چي رسیدنه ورته وکړي.
د ګمرکونو لوی رئیس دوی ته ډاډ ورکړ چي شته امکاناتو ته په کتو سره به د دوی ستونزو ته له اصولو سره سم ژر رسېدنه وکړي.
د یادوني وړ ده چي د ګمرکونو لوی رئیس د سوداګرو ستونزو ته د رسېدو په موخه بېلابېلو ولایتونو ته سفرونه کوي څو د دوی ستونزي له نږدې څخه واوري او د نافذه قوانینو په رڼا کي یې حل کړي.

شتمني
SHTAMANAI
اوونیزه

# تحلیل پیرامون مالیات



تهیه وتنظیم :
محمد احسان نکته دان

قسمت چهارم :

**معافیت مالیاتی**

در هر کشوری منابع در آمدی و سرمایه ای مردم شامل پرداخت مالیات به حکومت آن کشور می شود. معافیت مالیاتی را می توان خروج قانونی و به صورت موقت از پرداخت مالیات تعریف کرد که در راستای سیاست های حمایتی حاکمان از مردم صورت می گیرد. بناءقانون مالیات برای معافیت های مالیاتی موارد خاصی را در نظر گرفته است که در زیر تذکر داده می شود: اعانه های حاصله وعواید از فعالیت لازمی موسسات که مطابق قوانین نافذه ایجاد شده باشد، موسسات غیر انتفاعی که صرف به منظور امور تعلیمی، کلتوری، ادبی و علمی یا خیریه ایجاد شده و فعالیت نماید. عواید ادارات دولتی و نمایندگی های آن بشمول شهرداری ها تابع مالیات بر عایدات نمی باشند.

**وظایف مودیان**

وظایف و تکالیف مالیاتی اشخاص حقیقی و حکمی با یکدیگر متفاوت هستند. برای مثال فردی که اقدام به راه اندازی شرکت می کند مکلف به امور آتی می باشد:

۱- مکلف به اخذ جواز است که باید از مرجع مربوطه اخذ نماید.

۲- مکلف است تا اساسنامه معیاری ترتیب و طبق آن اجراءات خویش را به پیش برد.

۳- اشخاص حقیقی وحکمی دارای عواید قابل مالیه مکلف اند تا تمام اسناد و دفاتر و صورت حساب معاملات اموال منقول و غیر منقول و عواید خود را در سال مالی مربوطه ترتیب و نگهداری نموده در صورت مطالبه به دسترس موظفین مربوطه وزارت مالیه قرار دهند.

٤-اشخاص حکمی انتفاعی یا غیر انتفاعی ای که مطابق قوانین کشور ایجاد شده باشند، مکلف به وضع مالیات بر عایدات طبق قانون مالیات می باشند.

٥-کسانی که تابع مالیات ثابت اند، مکلف به پرداخت مالیات در خلال سال مالی می باشند. معمولا مالیات ثابت به چهار قسط یعنی ربعوار پرداخت می گردد.

٦- تمام مودیان مکلف اند تا نمبر تشخیصیه اخذ بدارند.

۷-تمام اشخاصی که تابع مالیات قرار دارند به جز عرضه کنندگان خدمات مالیات معاملات انتفاعی باید اظهار نامه مالیاتی خویش را سه ماه بعد از سپری شدن سال مالی ارایه نمایند.



**ویژگی های مالیات**

از تعاریفی که در فوق تذکر یافت می توان ویژگی های مالیات را قرار زیر مشخص کرد:

۱- مالیات یک التزام نقدی است. به این معنی که دولت مالیات را به شکل نقدی دریافت می نماید و با وجودی که در قدیم حکومت ها مالیات را به شکل محصولات زراعتی وغیره دریافت می کردند؛ اما بعد از این که پول معیاری برای قیمت ها وسیله داد و ستد و پرداخت دیون قرار گرفت و همچنان جمع آوری اموال عینی مشکل قرار گرفت، اخذ مالیات طور نقدی یک قاعده اصولی قرار گرفته، مگر اینکه در صورت های ویژه می توان به شکل جنس پرداخت نمود. اما چونکه جمع آوری مالیات به صورت عینی مشکلات زیادی را برای دولت ایجاد می کند باید مالیات به صورت نقده تحصیل گردد.

۲- مالیات الزامی و اجباری است . زمانی که مالیات بر اشخاص صاحب درامد وضع شد، شخص مؤدی در پرداخت آن فاقد اختیار بوده نمی تواند از پرداخت آن ابا ورزد و در صورت تخلف نظام حاکم می تواند به صورت جبری از وی وصول کند. کسانی که از پرداخت مالیات در زمان محدود آن اجتناب می ورزند طبق قوانین نافذه آن کشور با وی برخورد صورت میگیرد، یا با وضع مالیات اضافی مواجه می گردند. در این زمینه مالیات این امر مخصوص دولت است که مالیات را وضع کند. زمان پرداخت، شیوه پرداخت و سایر امور مالیاتی را مشخص سازد و برای مودی هیچ اختیار در این زمینه ها باقی نمی ماند. علی رغم اینکه مالیات به عنوان تاوان محسوب نمی گردد ولی از سوی زمامداران دولت بر مردم، اشخاص حقیقی و حقوقی ملزم می گردد. پس حق اجبار مردم به پرداخت مالیات منحصر به دولت بوده تنها دولت می تواند این قوانین را وضع، تعدیل و یا لغو کند.

۳- مالیات از طرف دولت بدون مقابل وضع می گردد. فرد یا مودی در پرداخت یا عدم پرداخت مالیات هیچ نوع اختیار و آزادی ندارد، بلکه وی صرف نظر از اینکه آماده پرداخت است یا خیر، مجبور است مالیه ای را که بالایش وضع شده است بپردازد. همین گونه اگر کسی با خود تصمیم اتخاذ نماید که از پرداخت مالیات فرار کند و یا از پرداخت آن امتناع ورزد، مجازات قانونی را در پی خواهد داشت. وی مکلف است تا مبالغ وضع شده را مطابق با احکام قانون به وقت و زمان معین آن به جانب دولت تحویل بدارد. هیچ نوع مالیات از مردم وصول شده نمی تواند مگر به حکم قانون و صرف می توان وضع مالیات، تعدیل مالیات و الغای آن را مطابق قانون انجام داد. هر گاه مودی از طرز اجرای قانون و نحوه حصول آن وغیر موضوعات مالیاتی شکایتی داشته باشد می تواند به مرجع مربوطه عدلی مراجعه نموده حل مطلب نماید.

٤- هدف مالیات تحقق منافع عمومی است. این ویژگی مالیات از بارز ترین نشانه های تطور وتحولی است که مالیات آنرا پشت سر گذاشته است و آن اینکه هدف مالیات تحقق بخشیدن منافع عمومی است؛ مگر درمنافع عمومی و نحوه تحقق آن بین علمای مالیات اختلاف های عمیقی و جود دارد که شرح آن از حیطه این مقاله بیرون است.

٥- مالیات به اساس معیار ها و مقررات نافذه وضع و حصول می شود. مالیات بر اساس نظام و مقررات مشخص وضع می گردد و این لوایح و مقررات باید از قبل بر اساس عدالت اجتماعی وضع و نافذ شود.

ادامه دارد ......................................

## د کندهار په محصولي گمرک کې د وارداتي او صادراتي توکو لپاره انالوگ تله فعاله سوه



د گمرکونو لوی ریاست د کندهار په محصولي گمرک کې د وارداتي او صادراتي توکو لپاره انالوگ تله فعاله او گټې اخیستنې ته وسپارله. دغه انالوگ تله د وارداتي او صادراتي توکو دقیق وزن معلوموي، چې له دې سره به د ملي عوایدو له ضایع کېدو او اضافه وزن څخه مخنیوی وسي. د یادوني ده، چې یاده تله (۱۸) متره اوږد والی لري، چې شاوخوا ۳.۵ میلیونه افغانۍ لگښت وربانـدي راغلی او کارونه ئې د یو افغاني شرکت له لوري تر سره سوي دي.

## د تعرفې د کمیټې نهمه ناسته وسوه

د گمرکونو لوی رئیس ښاغلي مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ د تعرفې د کمیټې نهمه ناسته د یادي کمیټې د غړو په گډون د گمرکونو او عوایدو معینیت د غونډو په تالار کې وسوه. د گمرکونو لوی ریاست د تعرفې رئیس د پروسس سوو صادراتي معدني ډبرو، د ښلچې او سرنج گمرکي تعرفې د زیاتوالي په اړه هر اړخیز معلوماتي پریزنټېشن وړاندي کړ او د یادو توکو د تعرفو په اړه ئې د سوداگرو او صنعتکاراتو غوښتني له گډونوالو سره شریکې کړې. د تعرفې د کمیټې غړو د دغه توکو د تعرفې په اړخونو بحث وکړ او له کورني تولید څخه د ملاتړ، سوداگرۍ او دولتي عوایدو د ودې اصل ته په کتو سره ئې په تړاو لازمي پرېکړې وکړې. همدا شان په دې کمیټه کې د ځینو اجناسو لپاره د ملي کوډونو په جوړېدو هم پرېکړه وسوه.

# اعلانات داوطلبی

### د بگرامي نساجي سره د (۵۱٦٦) متره مربع ځمکه او د (۲) بابه هنگرونو د مزایدي خبرتیا

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي چې د کابل ولایت ۱٦ ناحیې بگرامۍ نساجي په داخل کې (۵۱٦٦) متره مربع ځمکه او دوه بابه هنگرونه په (۱۵۸۰۰۰) افغانۍ میاشتنۍ کرایه مزایدي یا داوطلبۍ ته وړاندي کړي. ټول هغه حکمي وگړي، چې غواړي نوموړی ملکیت له ټاکل سوي قیمت څخه په لوړ قیمت ونیسي کولای سي خپل غوښتنلیکونه د اعلان له نشرڅخه وروسته د ۱۴ ورځو په موده کې د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد سوي ملکیت شرطپانه د اسنادو د ارزونې او لومړني قیمت ته په کتو تر لاسه کړي.

### په میرویس میدان (کوټه سنگي) کې د سترې مغازې د مزایدي خبرتیا

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي چې د کابل ولایت ۵ ناحیه میرویس میدان (کوټه سنگي) کي یو باب ۱۴مه شمېره ستره مغازه، (۴۳۴) متره مربع مساحت لري په (۵۳۰۰۰) افغانۍ میاشتنۍ کرایه مزایدي ته وسپاري. ټول هغه حکمي او حقیقي وگړي، چې غواړي نوموړی ملکیت له ټاکل سوي قیمت څخه په لوړه بیه ونیسي، نو کولای سي خپل غوښتنلیکونه د اعلان د نشر له نېټې څخه وروسته د ۱۴ ورځو په موده کې د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد سوي ملکیت شرطپانه د اسنادو د ارزونې او لومړني قیمت ته په کتو تر لاسه کړي .

### د (۱٦) ناحیه اړوند د نساجي بگرامي په داخل کي د یو باب اطاق اعلان

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي چې د کابل ولایت په (۱٦) ناحیې اړوند د د نساجي بگرامي په داخل کي یو باب اطاق چې (٦۰) متره مربع مساحت لري د داوطلبۍ له لارې اعلان تهسپارلي دی. ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص چې غواړي پورته یاد سوی ملکیت په کرایه ونیسي کولای سي خپل غوښتنلیکونه داعلان دنشرڅخه وروسته د ۲۱ ورځو په موده کي د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او دیاد سوي ملکیت شر طپانه د اسنادو دارزیابي او ابتدایي قیمت ته په کتو تر لاسه کړي .

### (۵) ناحیې اړوند د (۱۳) بابه دوکانونو اعلان

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي چې د کابل ولایت په (۵) ناحیه اړوند د میرویس میدان کوټی سنگي کي (۱۳) بابه دوکانونه په ټولیز ډول په کرایه ورکړي چې (۱۵٦) متره مربع مساحت لري د داوطلبۍ له لارې اعلان وسپاري. ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص چې غواړي پورته یاد سوی ملکیت په کرایه ونیسي کولای سي خپل غوښتنلیکونه داعلان دنشرڅخه وروسته د ۲۱ ورځو په موده کي د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او دیاد سوي ملکیت شر طپانه د اسنادو دارزیابي او ابتدایي قیمت ته په کتو تر لاسه کړي .

SHTAMANAI
اوونیزه


**د امتیاز خاوند:** د مالیې وزارت
**مسؤل مدیر:** احمد ولي حقمل
**مرستیال:** حبیب الله خُبیب
**د متونو تصحیح کوونکی** : ابراهیم ګران
**ژباړن** : اجمل زاهد

**کتنپلاوي:** ندا محمد صدیقي، مولوي عبدالرازق متقي، صدیق الله وفا، شمس عاطف، بلال احمد احدي
**د خبر مدیر** : داود نظري
**خبریال:** سید مصطفی سروش
**د معلوماتو راټولوونکی:** محمد افضل الکوزی
**ډیزاینر:** محمد نسیم ظهوري

**عکاس:** فضل احمد یوسفزي
**ویبپاڼه:** mof.gov.a
**ټویټر:** @ afghanistanmof
**یوټیوب:** afghanistan mof
**شمېره** : ۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰(+)






## The Customs Department met its revenue target before the fiscal year ended



The Afghan customs department has met its annual revenue target before the end of the fiscal year as a result of the facilities provided in all customs, transparency, and the appointment of dedicated professional staff. In 1401, the Ministry of Finance set a revenue target of 105 billion Afghanis for the General Directorate of Customs. The department above met its goal 15 days before the fiscal year ended. Before the Islamic Emirate of Afghanistan, the Customs Department had never met the Ministry of Finance׳s revenue target. The Customs Department generated 64 billion Afghanis in revenue last year (1400) and 72 billion Afghanis in 1399. It is worth mentioning that 15 days are left in the fiscal year, so by the end of the year, the customs revenue will be more than 110 billion Afghanis.

## Mostofiats Revenue at the Ministry of Finance Has Significantly Increased



The Ministry of Finance׳s foresight, the sincere fight against corruption, the recruitment of dedicated and qualified staff, the exemption of tax penalties for traders, industries, and guilds, the reduction of the tax rate for shopkeepers from 1.5% to 0.5%, and the establishment of needed facilities for taxpayers at Mostofiats all contributed to the collection of 11,3 billion Afghanis in revenue during the first 11 months of the current fiscal year.




**هدایت الله (هدایت)**

د سټنډرډ ملي اداره د بې کیفیته توکو مخنیوي پر وړاندې قوي هوډ لري! د سټنډرډ ملي اداري لخوا په فراه ۷۸ میل بندر کې (۸) ټانکره بې کیفیت ډیزل تیل ایران هېواد ته وګرځول شول. په دې وروستیو کې سټنډرډ ملي اداري په خورا جدیت د بې کیفیته تیلو د واردولو د مخنیوي لپاره عملي ګامونه پورته کړي.

**Shafi Azam**

هر سهار چې راډیو اورم د بمبارد/ انفجار/چاپې پرځای د یوې کوچنۍ پروژې خبر اورم یا ښار کې وینم سړک غاړې ګلدان رنګیږي؛ نو یو لوی شکر وباسم. بیا دعا کووم چې ربه دا نعمت دایم او له موږ هر یو نه د دې ملت او وطن رغولو کې اعظمي کار واخله. دا امن په ثبات او دې وطن نه د فقر پدیده ورکه کړي.

**Sediqullah Wafa**

ښه_خبر:
د ملي تدارکاتو کمېسیون په نوبتي غونډه کې د ( ۲ میلیارډه او ۴۸۰) میلیونه افغانیو په ارزښت بېلابېلې رغنیزې، اقتصادي پروژې منظور شوې. له دې سره به زرګونه هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر شي او د هېواد پر اقتصادي وضعیت به خورا مثبته اغیزه وکړي.

**Abdul Wahid Rayan**

ښه خبر !!
د اطلاعاتو کلتور وزارت د ګرځندوی لخوا د فراه ولایت د بخش اباد بند د انحرافي تونلونو د کار د پیل لپاره خلور خلویښت ملیونه افغانۍ د فراه د ولایت مقام ته سپارل شوي. هیله ده کار یې ژر شروع کړل سي.

**Naser Nayab**

لیتیم او افغانستان!
زموږ خاوره الله تعالی ډیره غني پیدا کړې ده او له هر ډول قیمتي مادو او ډبرو څخه برخمنه ده. لدې وروسته به د قوشتېپې کانال په خیر د لیتیمو اړوند هم له تاسو سره معلومات شریکوم. لیتیم هغه ماده چې اوسنۍ نړۍ یې تر ټولو زیاته تقاضا او د ترلاسه کولو هڅې یې کوي.
نایاب

د شتمنۍ اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د مالیې وزارت سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هېواد له لیکوالو هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک magazine@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.